(۴) 7/1968

۱۳۴۷

(۴) سرطان

د ماڼۍ

ددې ګڼې مضامین

سرمقاله	۱ مخ
پرشعر یو تحلیلی نظر	۲ «
کندهار د تاریخ	۳ «
ادب	۹ «
د تاریخ نه پخوا ...	۱۱ «
مارك تواین	۱۳ «
دادب وږمې	۱۴ «
انسانان هم ...	۱۹ «
ګیدړه	۲۰ «
د خندا پلوشی	۲۱ «
ابدیت	۲۳ «
ملت	۲۴ «



د سلام خانی د ودانۍ اړخ ته : د مخابراتو د مدیریت پخوانی ودانی چې د خرقی شریفی د ودانی یوه برخه هم پکښې لیدل کیږی

د افغانستان بانك د ودانی منظره: چې په دې وختو کې په عصری ډول جوړه سوېده

د کندهار والی دوکتور عبدالرحیم هغه وخت چې د احمدشاه بابا ، میرویس نیکه او زرغونی انا
د ښوونځیو فارغانو ته اطلاعنامې ورکوی دوینا په حال کې لیدل کیږی

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005
CONTINUATION 6

کندهار

د ۱۳۴۷ لمریز کال د چنګاښ میاشت

پوهنه که روزنه

داچی علم رڼاده اوموږ دهغه په پلوشو کی دژوند ټولی کنډی کپری وینو او یا داچی د مذهبی سنونو

له مخی د علم زده کړه پر ټولو مسلمانانو نارینه دی که ښځی فرض دی، غرض ئې دادی چی دعلم اوپوهنی

د لاری څخه انسانی ذهن تذکیه او له نفسی مفاسدو څخه چی د حیوانی غریزو له مخی دانسان سره همراه

دی وژغورل سو او په عوض کی هغه حسنه او حمیده ملکات چی د بشری کرامت اوشرافت جز دی راوپارول

شی اوبنی آدم د موجوداتو دخلقت په ډګر کی هغه څه وکړی چی دبنی نوع دشان او شوکت سره مناسب وی یعنی دعلم کسب اوزده کړه منحیث العلم غایه نه ده بلکی یوه وسیله ده چی د انسانی نفس دتذکی په غرض چی دهغه څخه مراد دیوه داسی

با تقوا او متدین انسان په وجود راوړل دی چی د ټولو اجتماعی ښېګڼو درلوونکی وی او خپل ټول فردی وجایب او اجتماعی

فرایض هم ښه ترا پېژنی اوهم ښه ترا هغه پر خپل ځای او موقع

باندی ادا کړای سی که چیری د علم او پوهی د زده کړی سره

تربیه او روزنه ملګری نه وی او فردی احساسات دوجدان ترالهام

لاندی حرکت ونه کړی فردی اواجتماعی فعالیتونه دعاطفی

محبت احترام څخه ترکیب سوی نه وی نو هغه بی لجامه آس

غوندی کیږی چی د بدبختی په کنده کی سقوط کوی اودا دری متل چی وایی:

علم اگر بردل زند یاری شود
اگر بر سر زند ماری شود

نو ددې پاسنی توضیحاتو په موجب دعلم اوپوهی دزده کړی سره باید روزنه اوتربیه ملګری وی څو اصلی هدف چی اجتماعی

تقوا او فردی تدین دی منځ ته راسی او فرد د علم د زده کړی په رڼا کی دخپل ټولنی یو صالح او مفید غړی وی زموږ هیله

داده چی که تربیوی موسسات دی اویا فردی مربیون دی خواه په کور کی وی یا په مدرسه کی د علم او پوهی د زده کړی ثقل

خپل هدف ته چی تربیه ده متوجه وی څو دعلم اوپوهی دزده کړی څخه اصلی مقصد چی دیوه با تقوا او متدین انسان په وجود راوړل دی په لاس راسی.

نو وختی چی تقوا او تدین په انسان کی وده وکړه معلومه خبره ده چی ددې اصل په اړخ کی به انسان د

ژوندانه پر ټولو اړخولکه څنګه چی ښائی فایق سی او هره دنده چی دده پر غاړه ولویږی په ډېره ښه توګه به هغه ترسره کولای شی.

که چیری د تاریخ په ادوارو کی وکتل شی هغه کړه وړه چی نن ئې موږ وینو هغه ټوله د علم، پوهنی روزنی، تقوا، نفسی مفاسد اوحیوانی غریزو ترعنوان لاندی راځی چی داهر یو په معنا کی بېل، بېل کړه وړه لری چی دښو څخه ئې خلق

پند اوخوندا خلی اودبدو څخه ئې د عبرت درس نو ځکه موږ لره په کار ده چی هغه لاره ځانته غوره کړو

چی دخدای [ج] اوخلګو په هغه کی رضائیت وی څو د ټولنی د خوښی موجب وګرزی.

لیکونکی : م [عطائی]

پر شعر یو تحلیلی نظر

[جان ملتن] د انگلستان معروف لیکوال ویلی دی چی هر شعر لاندی درې بنیاده ولری نو هغه شعر واقعی شعر دی (ساده او بسیط بـه وی) (د نفسانی لذاتو پیروی به پکښی سوی وی) ، او (آتش مزاجی به ولری.)

د ملتن داچو کاټ د شعر په باره کی واقعاً ښه حدود معلوم کړیدی او موږ کولای شو چی په مقایسوی ډول د شعر ونو په باره کی خپل قضاوت پر معیاری کړو .

لومړی اصل
«سادګی او بسیط والی»

سادګی او بسیط والی په هرڅه کی واقعی ښکلا له پردې او پیچیده ګیو څخه راباسی نو ځکه مطلوب بلل شویدی.

شعر ، چی یو ښکلی هنر دی نو که ساده ګی ونه لری کیفیت ئې په پرده کی پټیږی کیږی د مثال په ډول د قدیم یونان او روم په ادبیاتو کی په لومړی ځل کی ساده ګی وینو او بسیط والی ئې هم بدلندی خود او ضع په هغه مهال کی چی د منځنیو پېړیو د کلیسا ترچپاول لاندی خپل رنګ بدلوی نو شعر د سادګی او بسیط والی څخه وزی مرموز کیږی او داسی مرکب ځینی جوړیږی چی غایه او هدف ئې وذهنی رکود ته منتج کیږی.

د رنسانس په دوره کی چی ادبیات د ملی ژبو په خپلواکی کی نوی رونق پیدا کوی نو شعر د یوې لنډی مدې لپاره سادګی او بسیط والی ته مایل کیږی خو د کلاسیک مکتب به سیطره کی بیا دغه ښکلا ځینی نیستی کیږی .

پدې پسی چی د جهان وضع د صنعتی انقلاب په څپو کی پر اقتصادی او سیاسی محاذ بدله شوه او د فرانسی لوی انقلاب د فردی آزادی ډمامی خپرې کړی نو رمانتسیزم مکتب د « ادبی لیبرالیزم» په عنوان د ادبی نړی پرچمدار شو او پدې منظور چی د انسانی نړی هرڅه باید ساده او بسیط شی ، نو شعر هم پدغه نهضت کی بـرخه واخستله خو څرنګه چی د دې کار بنیاد پر تخیلی فلسفه ولاړ نو ورو ، ورو ئې زوال وموند.

مثلا موږ د رومانتسیزم د مکتب لوی شاعر [ویکتور-هوګو] په اشعارو کی یو مقدار سادګی او بسیط والی ویتو خو کله چی رونې (او بت) د دغه مکتب و نورو ښاخو لکه سمبولیزم، سوریا-لیزم او نننی اګزنستانسیا-لزم ته رسیږی نو شعر مطلق یو وحشی ماسك پـر مخ غوړوی او نه یواځی سادګی او بسیط والی ځینی ځسی بلکی له پېژندلو وزی.

د صنعتی انقلاب څخه زېږېدلی جریانا تو چی په دینا مك ډول د اتلسمی پېړی د اواخرو او نو نسمی پېړی د اوایلو اقتصادی او سیاسی بدلونو ته پرځان راتاوول نو په ټولنه کی یو نوی طبقاتی تصنیف آن په آن علمی کېدی او د هغه څخه زېږېدلی تضاد نوی پدیدې منځ ته راوړی چی په هغو کی د هنر نړی هم پر پخوانی حال پاتېدو نکی نه وه د دغو تاریخی حالاتو په اوښتو کی هنری پدیده له یوه لوی انحراف سره مخامخ شوه چی هغه (منزد هنر لپاره)

د محمداسماعیل [زاهل] ژباړه

کندهار

د تاریخ په مختلفو دوروکی

دا ښار دیوه ولایت پنامه هم یادیږی او د تاریخ په پاڼوکی ددې ښار د تأسیس قطعی نېټه نشته او هغه څه چی څرګندیږی هغه داده چی نوموړی ښار په پخوا زمانوکی یعنی دمخه تر اسلام جوړ سوی دی .

دې ولایت د تاریخ په مختلفو دوروکی د [هارانوتی - زمینداور اراکوزیا - اسکندریه - الرخج او په پای کی د کندهار] نوم پیداکړی او ددغو نومو په پیداکولو سره سم ئې څه ناڅه تاریخی موقعیت هم تغیر موندلی دی، خو ددغو ټولو تغیراتو سره بیاهم ددې ښار موقعیت د «ترنك اوارغنداو» د سیندو په مینځ کی ثابت او محقق دی .

ددې ولایت حدودو د پېړیو په تېرېدلو سره لوی او ښکاره تغیرونه موندلی دی لکه چی د «هخامنشیانو» په دوره کی ئې د سیند له رودخخه بیا تر هندوکش پوری وسعت درلود، مګردعربو د جغرافیائی پوهانو له څېړنو څخه داسی معلومیږی چی «الرخج» د کندهار په وادی پوری تړلی او دهغی هسته ئې تشکیلوله .

که څه هم دا ولایت په ٦ ق،م پېړۍ کی د «سیروس» په واسطه چی د هخامنشیانو له کورنۍ څخه ؤ فتح سویدی. مګر دې فتح عسکری بڼه ښه پوره نه ده څرګنده خو دومری ښکاره ده چی ددې ولایت نوم په هغه وخت کی «هارانوتی» ؤ. دغه هارانوتی یعنی کندهار تر دوو پېړیو پوری د پارسیانو په لاس کی ؤ څوچی په ۳۲۹ قبل المیلاد کی د اسکندرمقدونی له خوا فتح شو .

سکندر د اورګتیانو له هیواد څخه د شمال وخوا ته پر مخ ولاړی او اراکوزیا ته و رسېدی ، لومړی ئې د درنج او ګوګی ددرې غلګه خپل تابع او وروسته بیا اراکوزیا ته داخل شو . دمه په اوسنی کندهار کی یو نظامی کلا جوړه او دهغی نوم ئې «اراکهوزی» کښېښوده .

ددې کلا دپوالونه د ۳۲۹ ق،م په دوبی کی ډېر ښه لوړ سوی او سکندر خپل دعسکری پلان سره سم څه عسکر دلته واچول دا نظامی کلا د کندهار جنوبی خوا ته پرته وه چی که د کندهار زوړ ښار او احمد شاهی ښار په نظر کی ونیول شی نو دغه کلا ددغو دوو ښارو سره یو مثلث شکل جوړوی.

سکندر له بومی خلکو څخه چی د اراکوتی پنامه یادېدله عسکر ونیول او [ممنن] نومی ئې ددې ځای والی مقرر کی .

سکندر د نوموړی کلا په جوړولو او په هغی کی د یو څه عسکرو د اچولو په واسطه دغه ولایت خپل د عسکری فعالیت مرکز وګرځاوه او لدغه ځایه څخه ئې خپل د فتوحاتو لپاره و

هری خواته وځغستل.

هو! دی لومړی [د ننني هرات] یا دهغه وخت «اریایی» ته ولاړ او دهغې سیمې ښوربښیان ئې له پښو واچول او هلته ئې کراری جوړه او بیرته کندهارته راغی او لدغه ځایه څخه مخ پر کابل رهی سو.

ده دمخه تردې چې پرهند یرغل وکړی «بلخ» ئې ونیاوه او له هغه ځایه څخه دهند لوری ته روان سو.

دسکندر ترمرګ وروسته دده دغه پراخه اوارته امپراطوری دده دجنرالانو په مینځ کې ووېشل سوه، کندهار، کابل اوغزنی د «ستارسانرو او سایبرتبوس» ته ورسېدل. ددې سیمې داداري ددوام په هکله د یونانی امرانو له خوا د مؤرخینو (تاریخ لیکونکو) په

مینځ کې څه اختلاف دی ځکه ځینې مؤرخین وایی چې: دا سیمه تر دووېړیو پورې دیونانیانو په لاس کې وه اوځینې نور داسې عقیده څرګندوی چې فقط د څوکالو دپاره یونانی امیرانو په نوموړی سیمه کې امارت کاوه.

په «۳ق،م» پېړۍ کې د باختری دولت اداره د «ایوتیدم» په لاس ورغله. نوموړی دیونانی امیرانو له ډلې څخه ؤ اود باختری دولت د اداری تقسیماتو په لړ کې د هندوکش په جنوب غربی سیمه کې ئې یونوی او بېل امارت جوړ کې، داچې له یوې خوا «اراکوزیا او درنجیانا» د هیواد له مرکز (باختر) څخه لیری وه او له بلې خوا د

هندوکش دلوی اوجګ غر په مینځ کې پروت ؤ، نود «ایوتیدم» دا فکر ډېر پوخ او اساسی ؤ هغه ووچې ده خپل بل زوی چې «میتریوس» نومېدی ډېر زړه ور، غښتلی او د تدبیر خاوند ؤ، لومړی د اراکوزی د والی په حیث اولږ څه وروسته ئې دهغه ځای امیر مقرر کې. نوموړی په کلکه دهیواد وچارو ته متوجه شو، دباختری دولت نفوذ ئې د اراکوزیا (آریانا) او درنجیانا په لیری سیمو کې ټینګ اود

خپل پلار په اجازه ئې و «جدروزیا یعنی بلوچستان» او سند ته لښکر کښې وکړه او دغه سیمې چې اصلاً د آریانا په تاریخی ولایت پورې ئې اړه درلوده مګر پدغه وخت کې له اصلی چوکاټ څخه دباندې پاته وې ډېر ژر د باختری یونان په تاریخی دولت پورې ونښلولې اووروسته ترهغه ئې بیاد خپل هیواد وآبادی او سوسورتیا ته مخ راواړاوه او په اراکوزیا کې یولوی ښار جوړ کې چې ټولو کلاسیک مؤرخینو اوجغرافیه لیکونکو هغه ښار د «میترباس» په نامه یاد کړیدی.

د ایوتیدم تر مرګ وروسته دده زوی اوجانشین دمیتریوس خپل دپلار کړن

لاره تعقیب او د هند په ګډون ئې ټولی مفتوحه سیمې په ښه ډول اداره کړی داراکوزی اوسیستان امارت هم دپخوا په شان دده په لاس کې پاته ؤ.

دې نوی پاچا لومړی خپل ورور «اپولودوت» د هغه ځای په امارت ګمارلی ؤ تر څوچې خپل د

هیواد د پراختیا نقشه ئې جوړه او شخصاً پخپله و «تاکزیلا» ته ولاړ او خپل ورور اپولودوت ته ئې امر

وکړ چې «جدروزیا» فتح او په تاکزیلا کې دده سره یو ځای شي. دمیتریوس خپل ورور اپولودوت ئې په

هند کې پرېښود او خپل مرکز ته راوګرزېدی او خپل دریم زوی «پانتالئون» ئې د سیستان او اراکوزی امیر مقرر کې.

له تاریخی څېړنو څخه داسې څرګندیږی چې کله کله ددې امارت سیمه ډېره پراخه او حتی تر باروبامیزاد پورې رسېدله چې پایتخت به ئې کاپیسا ؤ.

لکه چې ځینو مؤرخینو دی پاروپامیزادی امیر او پایتخت ئې کاپیسا بللی دی.

د نوموړی امیر د امارت نېټه د ۱۹۰ ق،م حدودو ته نسبت سوېده. که څه هم داچې آیا ددې ولایت اداره څه وخت له یونانیانو له لاسه ووتله او په کومه سلاله پوری ئې اړه پیدا کړه؟ د نوموړی ایالت د ابتدائی تأسیس غوندی پوره او په قطعی ډول ښکاره او ثابته

نده خو سره د هغه هم څه چې د مؤرخینو او څېړونکو په نظر واقعیت او حقیقت ته نژدې ښکاری هغه دادی چې ددې ولایت د اداري انتقال په ۵۵ ق،م کی سوی او په بله کورنۍ پوری ئې اړه نیولی ده د مؤرخینو له تحقیق او څېړنی څخه داسی ښکاریږی چې ددې ولایت اداره د

«اګستوس» په زمانه کی د «ساکا او پهلوا» د امیرانو له خوا کېدله چې نوموړی امیران د پارتی قبیلو څخه شمېرل کیږی. وروسته تر هغه دغه ولایت د مختلفو امیرانو په لاس کښې وتلی او اداره سویدی چې د ساکا، پهلوا، کوشانیانو، او یفتلیانو په قبیلو پوری ئې اړه درلوده.

کوشانیانو یولوی اوستر سلطنت جوړ کی چې ننني افغانستان او د هند څه برخه پکښې شامله وه، پدې سلطنت کی له پارسی، هندی، هلنستیکی او رومی تمدن څخه یوګډ او تهذیب تمدن جوړ سوی و چې له هره حیثه دلیدلو او کتلو وړ او ډېر جالب و پدې وخت کی دې سیمی ډېر پرمختګ کړی و، څرنګه چې ددې سیمی سلطنت ډېر لوی او مختلفو عناصرو واک پکښې درلود نو ځکه کله، کله به ددوی په مینځ کی جګړې او شخړی هم پېښېدلی.

په ۲۲۵ میلادی کال کی «لومړی اردشیر» چې د ساسانی کورنۍ له پاچاهانو څخه دی، اون دریمی پېړۍ په دوهمه نیمائی برخه کی لومړی شاپور او په څلورمه پېړۍ کی دوهم شاپور د کندهار د سیمی امنیت او آرامی له مینځه یووړه، پدې ډول چې ددې سیمی

مغولی پاچاهی په ځینو سوغاتو او دوستانه وعدو غولولی او د مغولی امپراطورۍ د داخلی بی انتظامی او ګډوډۍ څخه ئې استفاده وکړه او په ۱۶۲۱م کال کی ئې د کندهار ولایت محاصره او یو کال وروسته په ۱۶۲۲م کال د جون په میاشت کی ئې فتح کی. که څه هم جهانګیر پاچا ددې سیمی د نیولو د پاره ښه پوره احضارات نیولی وه مګر په زړه پوری او مثبته نتیجه ئې وونکړه او د جهانګیر پدې ناکامی کی د ده زوی «شاه جهان» چې ددې کارواکی او مسئولیت

وده ته سپارل سوی و لویه برخه لری.

د شاهجهان د حکمروائی په وخت کی د مغولی امپراطورۍ موقف په شمال غربی

خوا کی څه خراب او د اندېښنی وړ ښکاره شو، شاه جهان ددې نقیصی د لیری کولو د پاره د اسی عزم و کی

چې د کندهار سیمه په هره وسیله چې وی باید خپل لاس ته راولی، نو هغه وو چې شاهجهان خپل په

ماهرانه وعدو او دوستانه لیکونو د کندهار د هغه وخت ایرانی والی چې علی مرادخان نومېدی

وغولاوه او هغه ئې د شاه عباس و بېوفائی او د کندهار و تسلیمولو ته

تحریک او تشویق کی. علی مرادخان د مغولی پاچا بیعت ومانه او خپل ددې کار

په عوض کی د مغولی حکومت له خوا په ډېرو پیسو او ښه عزت ونمانځل شو، پدې توګه د کندهار ولایت د

صفوی حکومت له منګولو خلاص او په مغولی امپراطورۍ پوری وتړل شو مګر مغولیانو تر ډېره وخته پوری د اسیمه پخپل واک کی

ونه ساتلی سوای ځکه چی صفویانو د دوهم شاه عباس په عین ژمی او یخنی ۱۶۶۸م کال داګست په میاشت کی د کندهار د نیولو د پاره ښه مکمل احضارات ونیول او پدې فکر کی وه چی واوره، باران او د هوا سوړوالی حتماً د مغولی حکومت د لښکرو کاروبار او له هندوستان څخه راتګ ګران ؤ. د شاهجهان د دربار خلګو د صفوی حکومت د دې پلان خطر څه ناڅه احساس کاوه او له شاهجهان څخه ئې غوښتل چی د صفوی حکومت سره خپل مخالفت او مقابله د ژمی او سړو ترتېر ېدلو پوری وځنډوی.

هو! د دربار یانو دې ټنبلی او غفلت خپله طبیعی نتیجه ورکړه، د صفویانو پاچا سره د دې چی لښکر ئې لږ او احضارات ئې نیمګړی وه د دسمبر د میاشتی په ۱۶ نېټه په ۱۶۴۸ کال کی کندهار محاصره او په پای کی د ۱۶۴۹م کال د فبروری په ۱۱ نېټه د شاهجهان لښکروته ماته ورکړه او مغولی حکومت ئې ځانته تسلیم کړ. دا هم باید وویل شی چی پدې ماته او مغلوبیت کی د کندهار د والی بی کفایتی او غفلت ډېره اغیزه درلوده.

د ۱۶۴۸ کال دمی په میاشت کی شاهجهان خپل زوی «اورنګ-زیب» خپل د صدراعظم سعدالله خان په ملګرتیا د کندهار د نیولو د پاره مؤظف کړ. اورنګ زیب د هغی میاشتی په ۱۶ پر کندهار حمله وکړه، څرنګه چی صفویانو د اورنګ زیب د دې حملی په مقابل کی پوره احضارات نیولی او ښه مهارت درلود نو ځکه د اورنګ زیب دا حمله پرشا ووهل شوه. شاهجهان سره د دغی ناکامی بیا هم د کندهار د نیولو له نقشی څخه لاس وانخیست او وروسته تر ۳ کلو احضاراتو ئې بیا اورنګ زیب او سعدالله خان د کندهار په نیولو وګمارل او پخپله شاهجهان د انتظام او اکمالاتو په غرض په کابل کی پاته شو. اورنګ زیب د ۱۶۵۲ کال دمی په ۲ نېټه کندهار محاصره کړ، که څه هم شاهجهان په ټینګه امر ورته وکړ چی تر څو د کندهار د ښار په دېوال کی کومه لار او نخره پیدا نشی باید له حملی کولو څخه ځان وژغوری، مګر شاهزاده خپل د پلار د امر او سپارښت په خلاف خپل په هغو لږو توپکو سره پر ښار حمله وکړه او د ایرانیانو د غښتلو او قوی توپو له خوائې حمله شنډ او بی نتیجی پاته شوه او پدې ډول دا پلا هم مغولی لښکر خپلی هیلی ته ونه رسېدی او شاهجهان د محاصرې د متارکی امر صادر کړ.

دریم ځل بیا د کندهار د نیولو او په لاس راوړلو د پاره د شاهجهان مشر زوی «داراشکوه» کوښښ وکړ مګر ده هم څه ونه کولای شول او ناکامه شو، پدې ډول د کندهار ولایت برسېره پر هغه ټولو نغدی لګښتونو چی تقریباً ۲ کروړو هندی روپیو ته رسېدلی یا په بل عبارت د کندهار د سیمی د عایداتو نیمائی برخه ئې تشکیلوله د ډېرو انسانی ضایعاتو سره یو ځای د مغولی حکومت څخه بېل او د صفوی حکومت په لاس ورغی.

د مغولی امپراطوری څخه د کندهار او شمال غربی ولایت جلا کېدل او د مغولی حکومت پر له پسی ناکامی له یوې خوا د نوموړی امپراطوری د جهان کشائی او ښی اداري لمن ورلکه داره او له بلی خوائې نورو مفتوحه ولایاتو ته هم موقع ورکړه چی تر ډېره وخته پوری د مغولی امپراطوری تر تاثیر لاندی پاته نشی خصوصاً د مغولی امپراطوری په آخرو وختو کی د هند شمال غربی ایالاتو جلا کېدل او له لاس څخه وتل

د نوموړی امپراطورۍ په خرابۍ کی لویه برخه درلودل او په عین حال کی صفویانو ته موقع او جرأت ورکړ چی د مغولی امپراطورۍ په مقابل کی ودریږی او تریوه حده پوری د هغی پر مفتوحه سیمو باندی تېری وکړی، نو لدې سبب د کندهار ولایت له ۱۶۴۸ څخه تر

۱۷۰۶م پوری د صفویانو له خوا اداره کېدی. تر څو چی د هغه کال په پای کی غلزائیان (غلجیان) د کندهار و والی ته پورته سول او په ۱۷۰۶م کی میرویس خان د صفویانو د والی (ګرګین) په مقابل کی د خپلواکۍ غوښتلو د نهضت مشرتوب په غاړه واخیستی. میرویس خان

د کندهار والی مړ او صفوی لښکر ئې له کندهار څخه وایستل او دغه ولایت ئې د خپلواکی سیمی په ډول پخپل لاس کی ونیوی، دې بری او فتح د پښتنو د خپلواکۍ غوښتلو د مینی اورته لمن ووهله او پښتانه ئې یو وار بیا وملی جګړې او پښتنی فتوحاتو ته ولمسول.

هغه وخت چی شاه حسین صفوی لدې پیښی څخه خبر شو خسروخان ئې د ۳۱ زره کسیز لښکر په قوماندانۍ په ۱۷۱۳م کال کی د کندهار سیمی ته راولېږی.

کوم وخت چی میرویس خان د صفوی لښکر د رأ استولو څخه خبر شو، نو په لازمو دفاعی چارو ئې پیل وکړ او د «جنګ افغان و پارس» د مؤلف په قول میرویس خان تقریباً دوه کاله په دفاعی چارو او ترتیباتو بوخت ؤ. د ښار اکثره او سېدونکی لکه زاړه او سپین سری

کوچنیان او نجونی ئې د غرو ولوړو او پټو ځایو ته واستول، د سپرو لښکرو یوه ډېره برخه ئې د «داؤد خان هوتک» سپه سالار په مشرۍ د فراه و دروته واستول څو د خسروخان سره جګړه او مدافعه وکړی او پخپله میرویس خان د خپل پلۍ لښکر سره د هلمند د سیند پر غاړه د بست په خرابو کی د خسروخان د راتګ انتظار کښل.

یو مشهور مؤرخ [میلسن] داسی لیکی: «که څه هم د پښتنو سپاهیانو شمېر ډېر لږ او د خسروخان د لښکر لسمه برخه هم نه کېدله مګر خپل د لومړنیو فتوحاتو او بری نشی داسی مست کړې وه چی په ډېره خوښی او زړه ورتیا د ۳۱،۲۰۰ کسیز لښکر سره د جګړې ډګر ته ورننوتل».

د میرویس خان او داؤد خان سره د خسروخان د جنګ ښه پوره تفصیل ندی معلوم صرف دومره لیکل سویدی چی خسروخان پډېر شدت یرغل راوړ او وې کولای شول چی د هلمند له سیند څخه تېر

او د کندهار وسیمی ته ځان راورسوی او پدې ډول ئې ښار کلابند کړ.

که څه هم پارسیانو د ښار د کلابندۍ د خلاصولو او پرانیستلو د پاره ډېری لاری چاری ولټولی مګر

په پای کی خسروخان او لښکر ئې کاختۍ او لوږی وارخطا کړل او دغه شی د میرویس خان او دده د ملګرو د بری او غلبی سبب شو.

ځکه چی کلابند سوی خلګو نور هم خپلی مقابلی او مدافعی ته ځګرور کړ، د همت ملاوی ئې وتړلی او د

زړه ورتیا غټ، غټ ګامونه ئې واخیستل او پخپلو څو پر له پسی حملو ئې د ښمن وشاته کښېناوه او د میرویس

په جذابو او اغیزه ناکو نصیحتونو ئې روحی قوت او زړه ورتیا تر دې اندازې ورسېدل چی د سر په ورکولو

به ئې ویاړل او د دښمن سره به ئې مقابله او جګړه کوله که څه هم خسروخان ډېر کوښښ وکړ چی د پښتنو په

مینځ کی د نفاق او رولګوی او د دوی له بی اتفاقۍ څخه ګټه واخلی خو کامیابه نشو په پای کی د خسروخان او

دده دملکرو روحیات ډېر ضعیف او ناامیده شول ځکه دښار له دباندی څخه میرویس خان سختی حملی او یرغلونه پرکول، دښار دننه خلکوهم ځانونه دډېرو په شان کلک ټینګ کړی او کلکه مدافعه ئې کوله، پردې واړو دژمی ساړه هوا اودخواکی موادو نشته والی

خسروخان له پښواچولی اوله ناامیدی سره ئې مخامخ کړی ؤ، ځکه چی میرویس خان دمو اصلاتوټولی لاری نیولی اوبند کړی وی. خسرو خان بله چاره نکړه پیدا دښار له کلابندی څخه ئې لاس واخیست او دخپل نیمګړی لښکر سره مخ پر اصفهان وتښتېدی مګر پدې تښتېدلو

هم د پښتنو له منګولو څخه خلاص نشو او میرویس خان دی ئې پخپل ۱۶ زرو مجاهدینو تعقیب کړ چی په نتیجه کی خسروخان دخپل ټول لښکر سره ووژل شو او د ۳۱۲۰۰ نفروڅخه چی دکندهار دنیولو دپاره له پارس څخه راغلی وه یوازی ۵۰۰ تنو په ډېر مهارت او خواریو ځانونه ژوندی ورسول.

دوه کاله وروسته صفوی حکومت بیا یولوی لښکر د «محمد رستم خان» په قومانی د کندهار وسیمی ته راواستاوه مګر د میرویس خان د غښتلی مټ تاب ئې رانه ؤړ او ناامیده پاته شو ددې دپاره چی د خسروخان په سرنوشت اخته نشی په ډېره بېړه له پښتنی خاوری څخه ووت او اصفهان ته وتښتېدی.

پدې ډول میرویس خان پښتانه چی د ډېر وخت څخه دخپلواکی تږی ؤ دخپلواکی او خودارادیت په خوږو ملو او به مست او نشه کړل او دا ابدی افتخار ئې ځانته وګاټه مګر افسوس چی ددې ملی قهرمان سره ژوندانه وفا ونه کړه او وروسته تر ۹ کالو مشر توب په ډېره سرلوړی او افتخار په ۱۱۲۷ هـ یا ۱۷۱۵ م کال کی ئې لدې نړۍ څخه سترګی پټی کړې.

د میرویس خان ترمړینی وروسته ئې ورور «عبدالعزیزخان» پرځای کښېناست. اوده په دوره کی کومه مهمه واقعه پېښه نشوه او دی هم ژر مړشو چی دده ترمرګ وروسته د کندهار دولایت واګی د میرویس خان دمشر زوی «شاه محمود» په لاس ورغی. دې نو میالی

پاچا وکولای شول چی د پښتنو د حکومت تسلط د صفوی امپراطوری پرزړه باندی قایم کړی خودا د پښتنی دنیا ځلانده ستوری هم په ۱۷۲۵ م کی له دنیا څخه سترګی پټی کړې او دده زوی «اشرف خان» ئې پرځای کښېناستی او دسر کښانو په آرامولو ئې پیل وکړ او دخپلو تېرشوو مړنو په شان ئې خپله د امارت دوره پلوېره دبدبه او عظمت

تېره کړه مګر په پای کی د پښتنی امپراطوری ځلانده لمر مخ پرلوېدو او کرار کرار ئې د صفوی امپراطوری له زړه څخه پښتنی

منګولی ووتلی اوددې کار علت داؤ چی «طهماسب» د شاه حسین صفوی زوی له «نادر» سره چی یو زړور

اوجنګی سړی ؤ لاس یو کړ او یو دبل په اتفاق اومرسته ئې شاه اشرف ته ماته ورکړه. دې ماتی پر پښتنی عسکرو

یو ډول بده اغېزه وکړه او هر څومره چی ئې کوښښ وکړ چی د ماتی مخ ونیسی بریالی نشول او په پای کی

په ۱۷۳۰ م کال کی پخپله شاه اشرف د «لوت» په دښت کی د یوه نفر له خوا چی «سرداربهلولی» نومېدی

ووژل شو. د شاه اشرف په وژلو سره د پارس پر حکومت باندی د پښتنی امپراطوری واك او تسلط بالکل پای ته ورسېدی او د نادر د فتوحاتو او جهانګیری دپاره زمینه ښه مساعده شوه.

وروسته تر هغه چی نادر د حکومت واګی په لاس کی ونیولی له داخلی او سرحدی ښورښوا او پېښو څخه ئې ځان خلاص کړ. «نوربیا»

محمدولی [زلمی]

ادب

ادب یو پراخه کلمه ده چی نن‌ددنیا په ټوله مواردوکی استعمالیدلی شی اود انسانی ژوند په‌تحول او نهضت کی مهم رول لوبوی هره‌لیکنه چی په‌هر موضوع کی کیږی که‌د ادبی لحاظه ضعیفه اولیری‌وی هیڅ‌خوند څوك نشی ځنی اخستلای او ډیرځله په لیکونوکی لکه‌په خـوړوکی د مالګی داسی حیثیت لری .

دکومه وخته څخه چی انسان د مځکی پرسر پیدا سویدی ادب اوادبیات سم‌ورسره راغلی دی اوهرڅومری‌چی انسانی ژوند تکامل او تحول کړیدی ادب هم په‌هغه اندازه ورسره متکامل اومتحول شویدی، مثلا مترقی اومدنی قومونو ادب هم‌هغومری مترقی اوپراخ اوسړی‌په نهائی ډول دیوې کلمی د معنی اومفهوم څخه استفاده کولی شی .

دادب دکلمی په معنی او ریښه کی تراوسه مختلف نظریات شته، دادبیاتو دکتاب مؤلف‌بناغلی [اشنا] لیکی : چی بعضی دغه کلمه اصلا عربی ګڼی چی ریښه ئې په سامی ژبوکی پلټی او بعضی «ادب» آریائی کلمه بولی چی‌په عربی کی دخیله سوی ده .

[زلمینو] ایټالوی مستشرق داسی خیـال کوی چی د «ادب» کلمه په‌نوی معنی له «آدب» څخه اخستل سوېده چی هغه د «ادب» جمع‌او معنی ئې خوی‌ده نه د «ادب» څخه څرنګه چی بئر (څاه)، اورئم (هوس) جمع‌شی آبار او آرام جوړ کړیدی

دغه ډول «دآب» ئې‌هم دیوه حرف جمع کړیدی اوهغه وخت چی‌ددغی جملی استعمال په‌عربوکی ډیرسویدی نوئې دهغی اصلی مفرد چی«دآب» دی هېر کړی‌او «ادب» ئې‌تصور کړی دی ځکه‌نو وروسته «دآب» پرځای «ادب» منځ‌ته راغلی دی اود پخوانی معنی پرځای ئې یوه‌نوی معنی پیدا کړیده .

[مصطفی صـادق او جبرسنویط] چی د مصر او سوریی د معروفو لیکوالو څخه دی دواړو انتاس نظریه رده کړی او دلایل ئې ویلی دی چی د «ادب» کلمه د پوهنی او فرهنګ په معنی د عربی پـه ژبه کی د جاهلیت په‌وخت کی مستعمله‌وه

او د سامی په نورو ژبوکی‌لکه «عبری» هم ریښه لـری چی په احادیثو او تورات کی‌هم‌ښو لی ده اود «هـذب تهذیبا» دکلمو مشابه‌ئې بللی‌ده .

ډاکـتر حسین وایـی : چی د [زلمینو] نظریه فرض او خیالی اساس لری، د عربو دجاهلیت د دورې څخه داسی‌عبارت پاته

ندی‌چی‌داکلمه پکښی‌ذکرسوی وی او نه دا په قرآن‌شریف کی وارده سوېده، یوازنی ځای‌چی داپکښی‌راغلی‌دی هغه‌داحدیث شریف دی :

« ادبنی ربی فاحسن تادیبی »

خوهلته داسی یوقاطع‌دلیل نسته‌چی‌داکلمه‌دحضرت نبی [ص] څخه‌په خبروکی‌یاده سوېده .

[انتاس] وایی که‌څه‌هم زما نظریه د ادب دکلمی د ریښی او منشا په‌شاوخواکی بنائی دټولو لغویانو اومستشرقینو له نظریو

څخه مخالفه‌وی خوبیاهم وایم چی د «ادب» او «ادیب» کلمی عربی‌ندی بلکی د یونانی ژبی

څخه عربی‌ته‌داخلیږی‌او ادب د یونانی کلمی اودوپاس Eduepes څخه اخستل سوېده چی‌داکلمه

هم د « Edus » (ښه) او « Epes » (خبری) څخه مرکبه ده چی د دواړو مفهوم ښه خبری کوونکی کیږی .

یعقوب حروف وایی: چی د «ادب» کلمه د «ایدوماس Edomas» یونانی کلمی څخه مشتقه ده چی معنی ئی «خوړل» دی .

[خفاجی] احمد د یوولسمی پیړی مدقق د «ادب» کلمه د عربی پهژبه کی دخیله کلمه بولی اووایی: چی د عربو په ابتدا کی د « ادب » د کلمی څخه د « ښه خوی او ښه کولو » معنی اخستل، مگر د اسلام تر ظهور وروسته خلکو «ادیب» د شاعر دپاره او «ادب» ئی عربی علوموته وضع کی .

د ایران د ادبیاتو په تاریخ کی چی د همایی تصنیف دی وایی: «الادب محرکته بمعنی الظرف وحسن التناول» .

فرید وجدی پخپل دائرة المعارف کی د ادب د کلمی لغوی معنی داسی کوی: ادب د ظرف په معنی و «ښو» اخلاقو زیرکی خوشنمائی څخه یوه مرکبه وضع ده په دسیط کی د ادب د کلمی داسی معنی سوپده:

هر ښه ریاضیت (مشق او تکرار) چی یو انسان په ښو فضایلو آراسته کړی او ددغه کتاب په حاشیه کی راوړه سویدی چی دغه تعریف د « ابوزید الانصاری » دی .

په جواهر الادب کی راغلی دی چی ادب د یو علم نوم دی چی په هغه کی دښی وینا طرز ونه بیانیږی .

د سیط وایی: د یوې ژبی د هغی ژبی د نظم او نثر څخه عبارت دی چی د ژبو او د عقلونو د طبایعو د ډولونو مختلفو خیالاتو او ادبیاتو، د پیمانو او نورو هغوشیانو چی د نفس د تهذیب او د عقل د قوت سبب کیږی بیان کوی .

همداشانی په عربی ادبیاتو کی د Literature کلمه د Erslett څخه مشتقه ده چی د حرف معنی ورکوی او د لیترز لفظ پخپله د لتریچر په معنی هم استعمالیږی لکه پدې عبارت کی Aman of litter کرده هغه څه چی لیکل سوی وی یا چاپ سوی وی لیتریچر نه ورته ویل کیږی ځکه د لتریچر نوم یوازی هغه قابل یاداشت افکارو ته ویل کیږی چی په عالی ډول سره په الفاظو کی ځای کړه سوی وی، دا د بهترین سبك کار دی چی کومی لیکنی ته د لیتریچر حیثیت ورکوی د عنوان په جمله کی چی اسرار « قویلر لوچ » ویلی دی د لتریچر لفظ ئی د لیکنی په معنی استعمال کړیدی.

دی وایی : ښه لتریچر هغه دی چی مطالعه کړه شی ، بلکی همدارنگه د یو فن په حیث ئی استعمال وشی .

لیکنه یو فن دی او صرف پدې سبب چی دا یو فن دی نو زده کړه هم غواړی هر فن د خپل اظهار دپاره خپله وسله او د خپل ځانه

اصول لری مجسمه جوړونکی په ډبرو او فلزاتو کی کار کوی موسیقی والا د صاف آواز په ایجاد کی کار کوی اما د لیکونکی

کار د الفاظو سره دی نو لکه دا نور فن والاؤ ته چی عملی زده-کړه پخپل فن کی ضروری ده او باید پرله پسی استعمال ئی وکی

څو چی وکړای شی دی پخپلو فنونو کی خپل مافی الضمیر په مجسمه رسم موزیك کی په مناسب ډول سره په اظهار ورسوی .

دغه رنگه د لتریچر جوړونکی یعنی لیکونکی ته دا په کار ده چی د خپل فن علمی اړخ زده کړی

د خبرو او لیکلو اساس مفید او د وجود دلیل ئی مفاهمه او مخابره ده .

• نور به ۲۸ مخ کی

د تاریخ نه پخوا زمانو کی

بشر په هغه دوره کی انسانان څه بلل کېدل

او څرنګه تکامل ئې کړیدی

ټولو ته معلومه ده د مسیح د میلاد نه پخوا په ۳۳۰۰ کال کی خط پیداشو او بشر وکړای شول چی د خپلی زمانی پېښی او واقعات په خطونو لکه هیروغلیف شکلی او نورو سره ولیکی.

د پېښو تاریخ د دې دوري نه وروسته نسبتاً روښانه دی، مګر د دې نه پخوا تمدن د هغوی د قبرونو د کیندلو او ښارونو په واسطه معلومیږی او موږ د هغوی د ژوندانه سره آشنا کوی.

د دې دوري نه پخوا یعنی د نن ورځی نه د سل زره کال پخوا تاریخ ډېر تیت وپرك او مبهم دی ځکه چی بېله ډېرینو شیانو او یا پر تېرو باندی د تصویرونو نه علاوه د هغوی څخه نور شیان لاس ته نه دی راغلی او که چیری کیندنی او حفریات لا پسی ژور کړو نو ئې د تېر شوو هېوکو څخه نور څه لاس ته نه راځی چی د دغو مړو کو یوځای کولو څخه په شکل د هغه وخت د انسان د اسکلت ساختمان برابر بری او له هغه څخه داسی معلومیږی چی د هغه وخت انسان به په شا کړوپ، کړوپ په لاره تلی ځکه چی د هغوی د پښو د پنډلیو هډوکی او د سر د کوپړې ظاهری قفوی ثقبی د نن ورځی د انسانانو څخه فرق درلود، یعنی ظاهره قفوی ثقبه د نننیو انسانانو په نسبت د هغوی د سر په کوپړې کی لوړه واقع وه.

هغه پخوانی اسکلت چی د تی لرونکو حیوانانو څخه لاس ته راغلی دی د «کرایدد» په دوري پوری اړه لری چی تر نن شپاړس میلیونه کاله پخوا موجود ؤ او له دغی زمانی نه راوروسته په مځکه باندی د تی لرونکو حیوانانو تو حاکمیت ثابتیږی.

په همدغه زمانه کی ؤ چی انسانانو دونو په ښاخونو کی استوګنه کوله.

د ۱۲-۱۵ میلیونو کلونو نه پخوا انسانان بریالی شول چی په نیغ قد پر لار ولاړ او په آزادو لاسونو شیان ونیسی، هغه انسان د «پروکونسول» او «دریوپیتیکوس» په نومو یاد ېدل.

۲-۳ میلیونه کاله پخوا انسانان د «پرومته اوس» او «اولترا لوپتیکوس» په نومو یاد ېدل، چی دماغ ئې د هغه وخت د نورو مخلوقاتو په نسبت ډېر انکشاف کړی وو.

مګر د آلاتو او اسبابونو د جوړولو څخه عاجز ؤ لدې جهته دوی «فورمنش» یا ډېر ابتدائی انسانان بلل کېدل، لدې دوري نه وروسته هغو انسانانو ژوند کاوه چی په غارونو کی به اوسېدل او د «ایشت منش» پنامه او یا د حقیقی انسان پنامه یادیږی.

دوی داور او ښکار په ایجاد موفق شول ځکه چی د دوی په غارو کی په سکرو

سره رسمونه اودحیواناتو
ښکار سوی هډوکی او د
ښکار ځینی ډبرین آلات
لیدل شوی دی .

«نیادرتالر» نومی
انسانانو چی ۲۰۰ زره کاله
پخوا ئې ژوندکاوه له اور
څخه ډېری استفادې کولی

او د «اورمنش» پنامه یا
ابتدائی انسانان یاد او بلل
شوی دی، دوی دحیواناتو
له پوستکو څخه چی د تېږو

په واسطه به ئې دهغوی له
بدن ایستل د ځان دپاره
جامی جوړولی په هغه
زمانه کی هر کله چی انسان

د تېږو ډبره څخه استفاده کوله
نو مؤرخان هغه د تېږو د
دورې پنامه بللی ده دهغه
وخت د انسانانو د نورو

خواصونه یو داؤ چی د
تېږو څخه به ئې وسلی
جوړولی اود هغو څخه به
ئې دوسلی کار اخیست چی

ددغی دورې څخه پخوا ئې
رواج ندرلود ، پسله هغه
نه کرار، کرار په تدریج
سره د انسان دماغ ډېر

انکشاف وکړ او د تېږو
سولول اود لرګو په څوکو
د حیواناتو د تېرو غاښونو
تړل ئې زده کړل یعنی د

غوڅونکو اوتېرو آلاتو او نیزو
جوړول ئې یاد او زده کړل، د
تېږو په دوره کی انسانان د
کوزو په جوړولو اوجولاګری
باندی قادر سول اوپه یووخت

کی ددوی یو خاورین لوښی په
اتفاقی او تصادفی ډول په اور
کی ولوېد اود پخوا څخه سخت
اومحکم ولیدل شو نو دخاورینو

لوښو پخول ئې سم زده کړل
دغه رنګه ئې دحیواناتو د غوښو
کباب کول هم د ځان دپاره
ګټور وبلل، د لرګی سپکوالی

اود کږېدو وړ والی انسانان د
څوزرو کلو دتېرېدو څخه وروسته
لومړی د نیزې دورې ته اوبیا
وروسته ئې دغشی اولیندی دورې

ته ورسول د نیزې ددورې په
وروستیو وختو کی انسانانو د
عوارضو اود حیواناتو دشره د
ځان دساتلو دپاره د خټو څخه

کوچنی چادیوالی بېله چت څخه
جوړه کړه او په پای کی د
څیرونکو حیواناتو او مضرو
خزندو د ضرر څخه د ځان د

حفاظت دپاره په ډندونو کی د
ستنو دپاسه دغه کورونه جوړ
کړل، لدغو څخه ځینی په هماغه
ابتدائی صورت دخاورو لاندی

لاس ته راغلی دی د لرغون
پېژندونکو د تحقیقاتو له مخی
دمځکی دننه څخه دشپږوزرو او

شپېتوزرو پخوانیو کلو
ترمنځ د یخ څلور دورې
تېری کړیدی، ددغو دورو
ترمنځ تقریباً د زروکلو

دپاره توده هوا هم موجوده
وه چی انسانانو، حیواناتو
او نباتاتو پخپله وده او
نشؤنما پیل کړیدی او دوی

ئې ډېر انکشاف ته تیار کړی
دی ځکه چی اړتیاوی ئې
ډېری سوی وې او انسان
مجبور ؤ چی ددغو احتیا-

جونو د لیری کولو دپاره
نوی ابتکارات وکړی، هغه
وخت چی د یخ وروستی دوره
دمځکی په مخ باندی مخ په

تمامېدووه، داروپا په قاره
کی اوسېدونکو وکړای شول
چی ځینی حیوانات هم رام
او تابع کړی او اهل ئې

وګرځوی او هغه لومړی
حیوان چی انسان رام کړی
دی قطبی لېوه ؤ د میلاد
څخه ۱۸۰۰ کاله پخوا انسا-

نان د فلز په ویلی کولو
باندی پوه شول مګر د آریا-
ئیانو چی تمدن ئې پر پخوانی
دی دغه کار ئې دمیلاد څخه

۳۸۰۰ کاله پخوا اجرا کړی ؤ
هغه لومړی فلز چی د
پخوانیو فلزو څخه لاس ته
راغلی دی او د بشر په لاس

د لومړی کشف سوی فلز په حیث پېژندل شوی دی مس دی او دهغه د نرموالی او د کږېدو او ماتېدلو د قابلیت په نسبت په پای کی بشر د «مسو او قلعیو دګډولو» څخه د برنجو یا ژړو په ایجادولو او پیدا کولو بریالی شو.

په دغه ترتیب د تیږو زمانه او دوره تېره شوه او د فلز دوره شروع شوه له دغی دورې څخه وروسته یعنی د میلاد څخه اته سوه کاله پخوا د فولادو عصر شروع شو. په دغه عصر کی آسوریانو او سومریانو د اروپایانو په نسبت ډېر پر مختګ کړی ؤ ځکه چی د فولادو نه ئې ډېری استفادې کولی.

په دغه ډول دی د بشر د تکامل داستان د تاریخ څخه پخوا زمانو کی د اوسپنی تر عصره پوری.

مارک تواین

مارک تواین یو امریکائی لیکوال وو، چی د ریالستک ادب په پالنه کی په نړۍ کی خورا زیات شهرت لری.

دی سره له دې چی په امریکائی جامعه کی روزل شوی ؤ او د ژوند د زحمت او تکلیف څخه لیری لوېدلی ؤ خو د ډېر حساس پاک زړه څښتن ؤ. دی ډېر عمیق او ځیر سړی ؤ. دده له انسان دوست نظر څخه په عادی ژوند کی د بل په حقوقو تېری او تجاوز نه ورکېدی.

مارتواین پخپل یو ادبی اثر کی چی «زماداکاینکل» نومیږی پر غلامی نفرت وایی او هغو خلګوته په کرکه ګوری چی د غلامانو سره ظالمانه رویه کوی.

دی پدې نکل کی خپل اکا ډېر ظالم سړی ښیی ځکه هغه د خپلو څو دېرشو غلامانو سره داسی رویه کوی لکه د حیواناتو سره.

د مارک تواین «د پاچا او فقیر» داستان عالی شهرت لری او د «تام ساویر» ماجرا ئې تر اوسه څو پلا چاپ سوېده (د ځان سره د پاچا لیو پولډ خبری) په اول کی هم د انسان دوستی وظیفه پر ځای کوی او د مستعمراتو د خلګو سره د مدنی خلګو رویه د یو قبل التاریخ وحشت په ډول ښیی پخپل بل اثر (د پاچا اثر دریار) کی ارستوکراسی غندی.

مارک تواین په ۱۸۳۵ کال کی زېږېدلی او هغه وخت چی د امریکا معروف جمهور رئیس براهام لنکلن د غلامی پر ضد مبارزه شروع کړه او له نن څخه سل کاله پخوا په امریکا کی کورنی جګړه شروع سوه نو مارک تواین په فلوریدا کی دیوه تازه ځلمی په حیث د هغه د مرام د پاره په قلم مرسته شروع کړه.

مارک تواین له دې څخه وروسته د معروف شخصیت خاوند سو او تر ۱۹۱۰ کال پوری څو ئې د مرګ ورځ رارسېدله په پوره مېړانه ئې د انسانیت لپاره خدمت وکړ ده د عصر په آخره کی هغه وخت چی اروپا د نویو انقلابو په څپو کښېوتلی وه د اروپا ئی لیکوالو سره ئې پوره شناخت درلود د روسیی د نوی دولت د مؤسس لینن اولوی لیکوال ماکسیم ګورکی سره ئې رابطه ساتله او لیکونه ئې سره لېږل.

د عمر په آخره کی مارک تواین

پاته په ۲۰ مخ کی

پخوانی ادب

بیدل وایی

خدای رحمت بند که، که بند میاشت سوه په هاله کښی
دامی زړه په غم تور سکور سو که دا داغ دی په لاله کښی

دزلفینو په تورتم کښی په رڼائی دمخ لوست سی
خوش خط ئی واضح دی په صفحه درساله کښی

داچی شین زړه زما سوری دی، ستا دسر وشونډو په نوردی
که شراب دی چی ښکاریږی نن وپشمه په پیاله کښی

ماه اولمردی راکوز سوی په لمن دشفق پټ دی
که می یار نغښتی ګورغښتی په رنګینه دوشاله کښی

سین داوښکو می په موج سو خدای دی پوری تری په خیر که
خیال زما دجان چی ناست دی پاس دستر ګو په جاله کښی

داچی درغابش دی سپین سره دی په خوراک زما دوینو
که اثر دسره لاله دی څر ګند سوی په ژاله کښی

که زما دزړه حال ګورې هزاره ګل ته نظر کړه
هسی تار په تار خور وو ردی ستا دغم په کشاله کښی

بیله اوښکو چی بهیږی د «بیدل» له دواړو ستر ګو
دریتیم به څوک پیدا که په چشمه او په فاله کښی

ښاغلی محمدګل [نوری]

لاس می نه رسی وصلت د جانان ګران دی

نن می بیا نیمکښه سترګی د جانان دی
تکی سرې لکه سورګل د ارغوان دی
په غمزو باندی ئې زما زړګی سوری کی
په باڼو خپل ئې پېیلی عاشقان دی

چی دجان سترګی په څېر د ارغوان سوی
پر را جمع د بڼو ټول بلبلان دی

سپین غاښونی لکه سپنی نرۍ ورجی
نرۍ ژبه سرې اوری سره ئې شونډان دی

سپینه زنه ئې کټ مټ لکه مڼه ده
شینکی خال ئې شرمینده د بڼ توتیان دی

هر باڼو ئې لکه غشی خطا نه ځی
سر تر نوکه هسی ښخ زما په ځان دی

توری څوڼی ئې الول پرمخ پرتی دی
پر ورتلای نسم فقط تور ښاماران دی

سم قامت د یار عیناً لکه اویښته
نېغه و نه ته ئې ټول عالم حیران دی

یار زما نن یګانه دی، په جهان کی
دحرم ښکلی ئې ټوله شاګردان دی

لاس می نه رسی وصلت دجانان ګران دی
خدایه څه وکم ترمنځ مو غمازان دی

چی دا ښکلی کاته نه کا مغرور ګرزی
دا په داچی د ښه حسن تښتنان دی

مینانو لره خوب و خندا نسته
د مین په غم کی ډوب ستړی ستومان دی

۱۶ مخ دی وکتل شی

بناغلی عبدالمنان

خوښ یم

زه د یار په درد غم لړلی خوښ یم
د دلبر په زلفو غبرګ تړلی خوښ یم

محبت می دی میندلی په ژړا کښی
د بلبل په شان په ګل ژړلی خوښ یم

چی صفت ځمادیار ور په کښی نه وی
د هغه مجلس نه زه شړلی خوښ یم

د شهباز په شانی خوښ په هوا نه یم
د دلبری په ځنګل کښی مړی خوښ یم

زه د یار د تورو زلفو دیدن غواړم
ځکندن کښی خپل دلبر دم کړی خوښ یم

په ژړا کښی می موندلی خوشحالی ده
زه د اوښکو په سیلاب کښی وړی خوښ یم

زه پښتون «عبدالمنان» همیشه وایم
تل په درد د عاشقی کښی ستړی خوښ یم

د ۱۵ مخ پاته

مینان تل بند په زړل د خپل مین دی
مینان مدام په وړ د خپل جانان دی

معشوقان چی کله هوکی کله یه کی
په دې چم ئې تړ یستلی عاشقان دی

«نوری» نوره مینه مه کوه د ښکلو
ننني آشنایان ټول بی وفایان دی

ښاغلی [الفت]

د ژوند ډېوه

شپه د وصل وه مجلس وو دیارانو
دمینو ، د درد منو ، رنځورانو

د ژوندون ډېوه د عشق په اور رڼا وه
د خلوت کور کښې د حسن تجلا وه

چې کتل مې د کوم لوری پتنګ راغی
لوغړن او تلولو په غور ځنګ راغی

ډېر بېتابه ؤ چې ځان ستی په اور کړی
سمدلاسه ځان پر اور باندی نسکور کړی

د تن پېټی خپل له ځانه کاندی لیری
کړی پیدا ځان ته د روح نوری وزری

کوم زړه سواندی ورته ویلی ګوره سوزی
ژوندون ښه دی په دنیا کی یو څو ورځی

دومره پاتی سه چې څه ووینی سبا ته
په رڼا ورځ یو ځل وګوری دنیا ته

پتنګ ووې زه مین په دې رڼا یم
له قدیمه په ډېوه باندی شیدا یم
زما ژوند لکه ډېوه د ځان سیرل دی
ځان ساتل له سوز پدونه مړه کېدل دی

ډېوه هغه وخت ژوندی وی چې بلیږی
مری هغه وخت چې له اور څخه بیلیږی

زموږ مرګ او ژوند له نور و فرق لری نه
له سپږلو نه نجات دی زموږ مړینه

سوز او ساز د زندګی ښه تماشا ده
بی رڼا او سپدل مړینه او فنا ده
زه د عشق له نور او ناره نه وېرېږم
د خلیل په شانی سرو لمبو ته لوېږم

ښاغلی سلیمان [لایق]

وحشی طبعه

نه مست د خرابات وړی نه مننه د حرم کړی
څه وحشی طبعه لرمه چی له ټولو څخه رم کړی

د ملګرو خامی هیلی هغه چاری په ما کاندی
چی تبی یی په غنم کړی، حرارت یی په شبنم کړی
زړه می بس چی دیارانو ځان ځانی آزرده کړی
نه دچا په خندا خاندی، نه دچا په غمو غم کړی

د صحرا دسره شفق نه دجنون پیغام را رسی
په مجنون چی مینی وکړی هغه چاری په ما هم کړی
پر پشان توفان خوځیږی دلیلی د څنو موج کښی
راته ښکاری د اسپلاب به زما دزړه خونه برهم کړی

ګوشمالی د حوادثو هغه چاری په ما کاندی
لکه ګوتی دمطرب چی در باب په زیروبم کړی
ساقی! مړ کړم حسرتو نو خاوری شویو ارمانو نو
یوه ترخه پیمانه را کړه ګوندی وی چی څه می تم کړی

ښاغلی [ننګیالی]

د اوښکو امیلونه

د مینی په څپو کی سلامونه درلیږم
دمات زړګی دردونه پیغامونه درلیږم

دتن غوښی شوې ویلی اوس به خود له غمه مرمه
وړو، وړو سلګو سره آهونه درلیږم
دآه او اوسیلو سره د ستا د زړه تسل ته
د سوی زړګی څړپکی، ګدازونه درلیږم
جنون کی چی بېلتون سره په برخه می ژړاسوه
تحفه د نرمو اوښکو امیلونه درلیږم

پاته یه ۱۹ مخ کی

انسانان هم په خپل کوګل کی یو ساعت لری

دغه د انسان په کوګل کی د نننه ساعت ډېر حساس دی او ددة حساسیت په تودوالی او رڼائی سره تو پیر کوی او زیاتیږی .

هغه وګړی چی ددوی ژوند منظم وی کولای شی په ډېره ښه توګه بېله کوم دبوالی او یا سرمیزی او نورو ډول، ډول ساعتونو څخه د خپل هغه ساعت په وسیله سره چی ئې په کوګل کی موجود دی استفاده وکړی او خپل وختونه پری وټاکی، دمثال په توګه دغه راز وګړی کولای شی په یوه ټاکلی وخت له خوبه را ویښ شی او په یوه ټاکلی وخت ویده شی .

پوهان له ډېرو اوږدو کتنو او پلټنو دې نتیجی ته رسېدلی دی چی هر انسان د نورو حیواناتو په څېر یوه شعوری قوه «یعنی په وجود کی د نننه یو ساعت» لری چی دغه ساعت بیا ځانته خاص قوانین لری .

یو المانی پروفیسور چی آسکوف نومیږی دې نتیجی ته ته رسېدلی دی چی د ژوندیو حیواناتو او انسانانو اعمال د یوه وخت پېژندونکی ځیرك او دقیق اندام په وسیله سره تر کنټرول لاندی نیول کیږی .

دغه اندام چی لاتراوسه پوری ئې دا پته نه ده معلومه چی د بدن په کوم ځای او کوم غړی کی به وی هره ورځ له کیهانی ساعت سره برابریږی .

د لمر او بر بښنا وړانګی او تودوالی ددغه ساعت حساسیت زیاتوی او بر عکس دی په سړو شپو او ورځو او تیارې کی خپل ګړندیتوب او توازن د لاسه ورکوی .

دغه پروفیسور خوتنه په یوه داسی محیط کی تم کړل چی د شپی او ورځی له تلو، راتلو څخه بیخی بی خبره وه ، وروسته ئې بیا د مصنوعی نور په وسیله سره داسی کار وکړ چی ځینو د دوی به ویل شل ساعته تېر سوی او ځینو نورو به ئې بیا ویل د پرش ساعته تېر سویدی .

دغه پروفیسور پدې عقیده دی چی انسان کولای شی چی د بدن د روزنی دستګاه د کار د پېژندلو په ډول او طرز نور به ۲۵ مخ کی

د ۱۸ مخ پاته برخه

د زړه ورو کاسو نه می ورو وینی څڅېږی
د سوز سره د وینو ډک جامونه درلېږم
په پاکه مینه زه «ننګیالی» تاته نازولی
کتري، کتري د زړه نه سوغاتونه درلېږم

ژباړونکی: غفور حمیدی

ګیدړه

یو سیاستمدار حیوان دی

طبیعی ده چی هر حیوان په خطر پوه شی یا تښته کوی یا کوښښ کوی چی پر دښمن باندی غالبه شی خو په حیواناتو کی ګیدړه ده چی هیڅکله نه تښتی او په مکر سره خطر رفع کوی. بله داچی د ګیدړی د زامنو تربیه

له نورو حیوانانو څخه بېله ده پدې ډول چی ښځه ګیدړه دورځی وزامنو ته نژدې یوځای پټېږی او حمله پر کوی پخپلو منګلو هغو ته کوچنی، کوچنی زخمونه ورپېښوی یا ئې ترغاړه نیسی هاخوا دپخوا ته ئې کشوی.

له دې کار څخه ئې مقصد دغه دی چی هغه د کوچنیوالی له وختو څخه بېرېدونکی لوی نشی.

باید پوه شو چی د ښځی ګیدړی د حمل وخت دوې میاشتی دی او په هر لنګواله کی له ۴ څخه تر ۷ پوری زېږوی کله، کله ئې شمېر و ۱۲ چیچیانو ته رسیږی.

د کوچنی ګیدړو د قد اندازه و لس سانتی مترو ته رسیږی.

ښځه ګیدړه وهیڅ حیوان ته اجازه نه ورکوی چی و چیچیانو ته ئې ورتېرشی ډېرلیده سوی دی چی زمری ئې په دغه سبب وژلی دی.

دروم پخوانی خلکو به په لویو مېلمستیاؤ کی وخپلو مېلمنو ته د ګیدړی کباب یا سرې کړی غوښی ورکولی دافریقا په ځینو هیوادوکی بزګران دخپل خورک دپاره د ګیدړی له غوښو څخه خواړه، خواړه جوړوی.

ګیدړه د نړی په ټولو ځایوکی لیدل سوېده او د بدن رنګ ئې ډول، ډول رنګ سوی دی په هرځای کی ئې جلا رنګ لکه: سپین، آبی، سور او مشکی دی.

حیوان پېژندونکی او هغه کسان چی د ګیدړی د ژوند په باره کی ئې څېړنی کړیدی ددې دپاره ئې دغه صفتونه ویلی دی: فوق العاده حافظه استعداد، اختراع، اکتشاف، بردباری، شجاعت، مهارت، چابکی د جنګ نبوغ ددې دپاره چی د دښمن په مخکی پوهیږی او دستی ماهرانه نقشه پیدا کوی.

د کورولوړوالی ئې له ۲ مترو څخه تر ۳ مترو پوری نیول سوی دی چی په هغه کی سالن د ذخیرې ځای، د پټېدو ځای سره معلوم دی. د ګیدړی ژوند په میانه ډول ۱۵ کاله دی وروسته په یوازیتوب کی مری.

د نامتو حیوان پېژندونکی «لافتون» په قول اوس د زمری پرځای ګیدړه د ځنګلو پاچاده او امیری پر کوی. باید پوه سو چی دا حیوان هیڅکله اهلی سوی نه دی.

مارك تواين

د ۱۳ مخ پاته

ضعیف او مریض شو او څرنګه چی د خوشحالـه طبع څښتن ؤ او په ادبی الفاظو ئې هغه د قدرت خاوندان چی خپل قدرت ئې د

انسانانو د خرابی لپاره په کار اچاوه ده مسخره کاوه نو هغو مجادله ورسره شروع کړه څو په ډېره کمواکی او غریبی کی مړ سو خو ترځان وروسته ئې د ادب په لارکی داسی یو مکتب پرېښود چی شاګردان ئې تر نن پـوری دده پـر لار د انسانیت لپاره په خدمت لګیادی.

د خندا !!!

پلوش

د محمد ناصر [نصرت]
ژباړه اوټولونه

د طیارې میدان

د شپې په یوه مېلمستیاکی دیوې ښکلی او ځوانی ښځی په غاړه یو امېل وو، هغه امېل چی د ښځی پر جګه غاړه اولڅ ځیګر را ځړېده په سر کی ئې یو طلایی الوتکه ځوړنده وه هلته یو ځوان د سالون له یوې ګوښی څخه پر دغه طیاره سترګی ومښتی او دومره ډېر ئې ورته وکتل چی په پای کی هغه ځوانه ښځه نژدې ورغله او ورته وئې ویل: معلومیږی چی زما دغه طیاره دی ډېره خوښه شوه؟

ځوان په ډېره خوږه ژبه ورته وویل: چی یه، ترالوتکی می میدان ډېر خوښ دی.

✿●✿

استاده ! بیرغ

یو خیاط د سختی ناروغۍ پر بستر پروت، او د خوب په عالم کی ئې ولیدل چی په هوا کی یو لوی بیرغ ښکاری، چی پر هغه باندی ټول هغه رنګ په رنګ ټوکران چی د سکښت پر وخت ئې د مشتریانو له کالو څخه تر وښولی وه ځړېږی او هم ئې ولیدل چی د عذاب ملایکی په یوه لاس کی دغه بیرغ او په بل لاس کی یو لوی ګروز نیولی دی چی د هر ټوکره پر وار دغه خیاط پر سر، سر باندی په وهی.

کله چی له خوبه ویښ شو نو له ځانه سره ئې عهد وکړ چی که دا پلا جوړ او خیاطی شروع کړم بیا به د مشتریانو ټوکران نه غلا کوم او هم به دغه ناوړ عادت له ځانه لیری کوم.

څرنګه چی دغه خیاط په ځان پوره باور نه درلود نو دغه تفصیل ئې وخپل یو شاګرد ته بیان کړی، او پر هغه ئې ټینګه کړه، هر کله چی زه د کالو په سکښت لاس پوری کوم ته به راته وایی: استاده! بیرغ....

تر دغو خبرو وروسته تر یو وخته پوری خیاط د خپل شاګرد خبرو ته غوږ نیولی، له خپل قوله نه اوښتی. لېکن یوه ورځ د خیاط یو شته من مشتری یو ډېر قیمت لرونکی ټوکر ورته راوړی او وروئې سپاره چی کالی ور جوړ کړی.

پدې وخت کی د خیاط تقوی او قول تر یو سخت طوفان لاندی راغلی او چی استاد ئې غرق او مغلوب ولید نو شاګرد ئې څو پلا پر ناري کړه چی:

استاده بیرغ. استاده! بیرغ...

خو استاد ئې حال پلن اچولی پر شاګرد ئې ږغ کړه: چپ شه بی علمه سړیه ته څه خبریی دغه ټوکر هلته نه ځړېدی.

نشه سړی او ګزمه

یو ګزمی په نیمه شپه د بازار په منځ کی یو نشه سړی بیده لیدلی او چی ترلاس ئې ټینګ ونیو ورته وئې ویل: ولاړ سه چی ځو.

نشه ورته وویل: چی چیرته به ولاړ شو؟

ګزمی ورته وویل: چی بندیخانی ته.

نشه ناري کړه چی دخدای [ج] پاردی لاس می ایله کړه، ځکه که زه دتګ وای خو کورته به تللی وای نو دلته د بازار په منځ کی می څه کول؟!.

✡✡✡

دمېړه مرګ

د یوې ښځی مېړه مړ، او کله چی دا ښځه له هدیرې څخه کورته رهی وه، یو یو ګام وروسته به ئې ترشا کتله، آخر یو چا پوښتنه ځنی وکړه آیا داچی هر ګړی ترشا، شا ګورې، دمېړه د فراق درد او ګرانښت دی مجبور وی؟

ښځی ورته وویل: چی یه. خدایرو ډار یوم چی مبادا بېرته ژوندی او کورته رانسی.

✡✡✡

عادل شاهد

یو ه ښځه او یو ځوان په ریل کی سره ناست، په سفر رهی وه. ریل په یو داسی غار کی چی د غره په دننه کی واقع ؤ تګ کاوه. ښکاره ده چی په هغه وخت کی ټول په تاریکه کی رهی او کله چی ترغار دباندی ووتل، نو ښځی شکایت وکړ چی دغه ځلمی په تاریکه کی زما څخه مچه واخیسته او هم ئې دا په زغرده ویل: څرنګه چی ځوان زما پر شرف حمله کړیده نو باید ددې کار دتاوان درفع دپاره دجریمی په توګه ډېری پیسی تادیه کړې.

دغه خبره ترمحکمی رسېدلی، او په محکمه کی دقاضیانو له خوا له ځلمی څخه پوښتنی کېدلی، خو ځلمی به په هره پلا کی له دغه کار څخه ځان بېګناه ښکاره کاوه آخر قاضی وځلمی ته وویل: آیا داچی دغسی حرکت له تا څخه نه دی صادر سوی څه دلیل لرې؟

ځلمی په جواب کی ورته وویل: تاسی دغه ښځه پر ېږدی چی خپلی ټولی خبری تمامی کړی، ترهغه وروسته زه په محکمه کی یو داسی عادل شاهد لرم چی ددغی ښځی ټولی خبری ور درواغ کړی.

کله چی دمحاکمی په پای کی له ځلمی څخه پوښتنه وشوه چی ستا عادل شاهد څوک دی؟

ځلمی وویل: چی زما عادل شاهد دهمدغی ښځی بد شکل، خواګرزنه چهره او قیافه ده. آیا په دنیا کی به یو څوک پیدا سی چی دغه بد شکل ته مائل او دغه منحوس مخ دی مچ کړی؟؟!.

✡✡✡

وسواس

یو سړی کوم فقهه ته ورغلی او ورته وئې ویل: ماحس کړه، چی لمن می له نجاست څخه مبتلی لپکن هرڅه چی می پسی وکتل هغه چټل ځای می ونه موند.

فقهه ورته وویل: عیب نلری، ځکه او س خو اصلی ځای پاك ښکاری. نو لمن دی هم پاکه ده.

سړی قانع نه شو، یو بل فقهه ته ورغی او دغه سوال ئې ورته تکرار کړ.

هغه ورته وویل: څرنګه چی پر پول د ښه والی باعث کیږی نو ښه دی داحتیاط دپاره دی لمن پر ېمنځه.

سړی پدغه پلا هم قانع نشو او یوبل فقهه ته ورغی .

دریم عالم ته څرنګه چی د تېرسوی جریان په اروېدو سره د سړی وسواس او لېونتوب ورښکاره شو نودهغه د شر د رفع دپاره ئې ورته وویل: څه ولاړ شه لومړی دی لمن چټله کړه او بیا ئې پرې مینځه!.

✡✡✡

سره ښوروا

له یو عربی څخه پوښتنه وشوه چی سړه ښوروا په عربی څه شی بولی ؟

عرب ورته وویل: چی موږ عرب هیڅکله ښوروا دې ته نه پرېږدو چی سړه سی ، اوله دغه سببه ئې وتسمیی وجه ته هم نه یو محتاجه سوی یعنی کله چی ښوروا توده وی سره ، سره ئې خورو .

کار

هغه خوند چی له کار او کوښښ څخه پیدا کیږی تر ټولو خوندوا او نشو ښه خوشحالونکی دی .

د کار نتیجه استراحت دی. د کوښښ او هنرمندی نتیجه باطنی خوښی ده. پدې ځای کی پښېمانی ، غم، ناروغی او بله هیڅ نامطلوبه نتیجه زموږ خاطر نه ازاروی .

کار د بدن د روغتیا منشأ، د خوشحالی او پرمختګ وسیله ده.

✡✡✡

ته ای ځوانه

د ۱۹ پېړی نامتو لیکونکی تولستوی لیکی :

ته ای ځوانه ژبه بنده کړه اولاس ایله کړه یعنی د کار سړی سه، نه د ویلو ځکه یوازی کار دی چی موږ ومقصد ته رسوی او د افتخار ګلونه زموږ پر سینه ټومبی .

ابدیت

دغه دی ستا کور ته راغلم؛ پدې تروږمی شپه کی می تا ته بوغ وکړ، ستا د کور زنګیر می وشرنګوی، خوهیڅ چا راته جواب رانکړ او ځنډمی اوږد شو.

ستا دیدن می په برخه نه شو؛ دغه دی اوس بیرته ځم او دا پاڼه تاته پرېږدم، دا ځکه چی ته پوه شی چی زه راغلی وم او ستا دروازې ته ولاړه وم.

دغه دی زه بیرته پخپله لاره ځم ؛ په هغه لاره چی انتها نلری .

✡✡✡

هغه راغلی وه خو زه پری پوه نه شوم او... بدی برخی .

دا څومره دروند خوب وو؛

هغه دشپی پـه چپه چپتیا کی راغلـه او پخپلو نـریو ګوتو ئې زمـا په غـوږ کی یوه موسیقی نغمه بغوله په اوچت آواز ئې نغمی وویلی ؛ خو زه ویده وم او هغه پـه راغلی لاره ولاړه .

څه وخت چی ویښ سوم، د سهار وږمه په نڅا ګډه وه ؛ د څپونو فضا می په خوشبویه عنبرو ډکه وه.

آه .. افسوس .. دخوابه خوب کیف می د شپی پـه وروستی برخـه کی دلاسه ورکړ .

اوه . . . . د هغی د غاړی هار او د ګلانو امپل زما په سینه لوبی کولی خو زه پوه نه سوم ، ماته را نژدې سوه خو زه پوه نه سوم .

«تاګور»

د رشید [آرین] ژباړه

ملت

ملت څه شی دی؟

تر ټولو دمخه ملت د افرادو ټاکلی اشتراک دی.

دا اشتراک نژادی او قبیلوی جنبه نلری دایټالیا اوسنی ملت له رومیانو، ژرمنیانو، اتروسکانو، یونانیانو، عربو او نورو څخه جوړ دی.

دفرانسی ملت له ګلانو رومیانو، برتونانو، ژرمنیانو او نورو څخه تشکیل سویدی د انګریزانو، المانیانو او نورو په باره هم باید دغه وویل شی چی د بېلو، بېلو نژادو او قبیلو څخه جوړ سوی او دملت شکل ئې غوره کړیدی.

نو ملت نه نژادی جنبه لری نه قبیلوی. بلکی د افرادو یو اشتراک دی چی د تاریخی عواملو په اثر منځ ته راغلی دی.

له بلی خوا شك نسته چی د کوروش یا سکندر ستر دولتونه ملت نسو بلاى که څه هم د تاریخی عواملو په نتیجه کی او له ډول، ډول نژادو او قبیلو څخه جوړ شوی وه. دا ملتونه نه وه بلکی دهغو ډلو تصادفی او کم ارتباطه ګډوالی ؤ چی انفصال او اتصال ئې ددې یا هغه تافح په بری یا ماته پوری تړلی ؤ.

نو ملت یو تصادف او تېر پدونکی ګډوالی ندی بلکی د افرادو ټینګ او پا برجای اشتراک دی.

خوهر پا برجا اشتراک ملت نه جوړوی اتریش او روسیه هم د افرادو پا برجا اشتراک دی، خوهیڅوك ئې ملت نه بولی نودملی اشتراک اودولتی اشتراک ترمنځ څه فرق دی؟ سره ددې چی ملی اشتراک بېله مشترکی ژبی څخه مفهوم نلری، خو و ټول هیواد ته مشترکه ژبه حتمی نده.

په اتریش کی د چکی ولس وجود او په روسیه کی دلهستانی ملت وجود دمغوی د مشترکی ژبی بېله وجود څخه ممکن ندی پداسی حال کی چی په روسیه کی دنغه د یو لړ بېلو، بېلو ژبو وجود د روسیی او د اتریش دتمامیت نه مانع کیږی.

البته خبره په هغو ژبو کی ده چی وګړی په کړیږی نه اداری رسمی ژبی..

نودژبی اشتراک دملت له بېلو بېلو نښو څخه دی البته له دې څخه نو دا نه معلومیږی چی بېل بېل ولسونه تل او هرځای په بېلو بېلو ژبو بږغیږی، یا ټول هغه افراد چی په یوه ژبه خبری کوی خامخا یو ملت جوړوی مشترکه ژبه هر ملت ته لازمه ده، خو بېلو بېلو ولسو ته ډول، ډول ژبی حتمی ندی! داسی ولس نسته چی په یوه آن کی دی په ډول، ډول ژبو خبری کوی خو له دې څخه نو دا نتیجه نه راوزی چی داسی دوه ملته نه مونده کیږی چی په یوه ژبه دی نه ګړیږی! انګریزان او شمالی امریکائیان په یوه ژبه بږغیږی سره ددې چی دواړه یو ملت ندی. عین دغه خبره باید د نروژیانو او ډنمارکیانو انګریزیانو او ایرلینډیانو په باره کی وویل شی.

خو مثلاً انګرېزیان او شمالی امریکایان د مشترکی ژبی سره ولی یو ملت نه تشکیلوی .

تر ټولو د مخه پدې علت دوی یو ملت نه تشکیلوی چی یو ځای ژوند نه سره کوی بلکی په بېلو، بېلو هیوادو کی ژوند کوی .

ملت یوازی د اوږده او منظم معاشرت په نتیجه کی د هغه مشترك ژوند په نتیجه کی جوړیږی چی وګړی ئې

پښت پر پښت سره کوی خو اوږد مشترك ژوند بېله مشترکی مځکی څخه نسی کېدلای .

انګرېزیان او امریکا-یان پخوا په یوه مځکه کی یعنی په انګلستان کی اوسېدل او یو ؤلس ئې تشکیلاوه .

وروسته د انګرېزانو یوې برخی له انګلستان څخه په امریکا کی نوی مځکی ته مهاجرت وکړ او دلته ئې

په نوی مځکه کی د وخت په تېرېدو سره د شمالی امریکا نوی ملت جوړ کړ، مختلفی مځکی د مختلفو ملتو تشکیل منځ ته راوست .

« نو د مځکی اشتراك د ملت له مشخصه نښو څخه دی

خو خبره دلته نه تمامیږی د مځکی اشتراك خود بخوده ملت نه جوړوی

بلکی تر دې علاوه یوه د ننني اقتصادی رابطه لازمه ده چی د ملت مختلفی برخی ئې په یوه حد کل کی سره متحد کړیدی .

د انګلیس او شمالی امریکا ترمنځ یو داسی ارتباط نسته نو ځکه دوی دوه بېل ولسونه تشکیلوی

خو که د شمالی امریکا مختلفی سیمی د هغوی ترمنځ د کار د وېش، د ارتباطی لارو د پراخی او

نورو په سایه کی یو د بل سره د یوه اقتصادی واحد

په شکل نه مربوطېدلای پخپله شمالی امریکایانو هم د ملت د نوم وړتیا نلرل .

د مثال د پاره به ګرجیان په نظر کی ونیسو ګرجیانو تر رفرم «۴» د مخه په ګډه مځکه کی ژوند کاوه په یوه

ژبه ئې خبری کولی خو سره د دې ئې د کلمی په خاصه معنی

سره واحد ملت نه تشکیلاوه ځکه پر یو لړ یو له بل څخه جلا شاهزاده نشینو باندی

وېشل سوی وه او که اقتصادی ژوند ئې نشوای لرلای پر له پسی پېړۍ یو له بل سره جنګېدل ایرا-نیان او ترکان ئې یو پر بل باندی

راتحریکول او د یوه ؤ بل کورونه ئې سره خرابول . د شاهزاده نشینو تصادفی او تېرېدونکی اتحاد چی یو بختور پاچا به ئې کله پر عملی

کولو بریالی سو پخپل بېخی ښو حالاتو کی یوازی سطحی اداری محیط په برکی نیوی او ژر به د شاهزادګانو د هوسرانی او د

برګرانو د بېعلاقګی په نتیجه کی سره وشلېدی . البته د هغه اقتصادی تشتت په نتیجه کی چی په ګرجستان کی موجود ؤ، بل ډول نشوای کېدلای . ګرجستان

انسانان هم...

د ۱۹ مخ پاته

سره بېله دې چی ستړیا او ستومانی حس کړی ډېر کار وکړی

دغه پروفیسور اوس پدې لګیا دی چی یو داسی جدول جوړ کړی چی د هغه په وسیله سره دا وکولای شی چی د خپل

کوګل ساعت وپېژنی او د خپل کار ساعتونه له هغه سره تطبیق کړی . د دغو ازموینو نتیجی به ژر روښانه او خپرې سی .

یوازی د ۱۹ پیړۍ په دوهمه نیمائی کی د یوه ملت په عنوان ظهور وکی چی د سر واژ سقوط، د هیواد

د اقتصادی ژوندودې، د ارتباطی لارو پراخوالی او د سرمایه دارۍ راپیدا کېدو د کرجستان د بېلو بېلو سیمو ترمنځ د کار وېش

پرقرار کړ، په نتیجه کی ئې د شاهزاده نشینو اقتصادی محدودیت پرمخ متزلزل کړ او هغوی ئې په یوه اقتصادی واحد کی یو د بل سره وتړل.

نو د اقتصادی ژوند اړیکی د ملت له مشخصه خصوصیاتو څخه دی

خو خبره پردې ځای لا نه تمامیږی، تردې علاوه چی وویل سول، دالازمه ده چی د هغو خلکو د معنوی بڼی خصوصیات

هم ترغور لاندی ونیول شی چی په یوه ملت کی سره متحد سوی دی. ولسونه یوازی د دوی د

ژوند د شرایطو پر اساس یوله بله څخه بېل ندی بلکی د خپلی معنوی بڼی پر اساس هم چی د دوی د ملی

فرهنګ په خصوصیاتو کی تجلی کوی، یوله بله څخه بېلیږی، که د انګلستان، شمالی امریکا او ایرلنډ خلک چی په یوه ژبه خبری کوی د ري سره بېل ولسونه تشکیلوی.

پدې باره کی مهم او د توجه وړ نقش د دې ولس مخصوص روحی ساختمان دی چی د ژوند دسره ناورتو او سره بېلو شرایطو په نتیجه کی پښت پر پښت منځ ته راغلی دی.

البته روحی ساختمان یا هغه څه چی «ملی اخلاق» ئې بولی پخپله هغه چاته چی په سطحی نظر ورته

ګوری د درک وړ ندی، خو کله چی په فرهنګی خصوصیت کی چی و ملت ته عمومی جنبه لری منعکس

کیږی د درک وړ دی او سړی ستر ګی نسی پر پټولای.

دا خبره و یادولو ته اړ تیا نلری چی «ملی اخلاق» داسی شی ندی چی همېشه ثابت او پر یوه ډول وی

بلکی د ژوند د شرایطو سره سم تغیر پیدا کوی، خو څرنګه چی په هره مفروضه لحظه کی وجود لری نو ځکه

خپل نقش د ملت پر بڼه باندی ښکاره کوی.

نو د روحی ساختمان اړیکی چی د فرهنګ په اړیکی کی اغیزه لری، د ملت د مشخصه نښو څخه دی

پدې ډول مو د ملت مشخصه نښی پای ته ورسولې. ملت د افرادو ثابت ګډون دی:

چی د تاریخی عواملو په اثر ئې ترکیب موندلی او د ژبی، مځکی، اقتصادی ژوند او روحی ساختمان

چی د فرهنګی اړیکی په شکل منعکس کیږی، پر اساس منځ ته راغلی دی.

ضمنا دا ټکی پخپله ښکاره دی چی ملت هم لکه هره تاریخی پدیده د تغیرات و د قانون تابع دی، ځان ته تاریخ لری، شروع لری پای لری.

باید دا یاده سی چی له پورتنیو نښو څخه هیڅ یوه یوازی د ملت د تعریف د پاره کافی نده تردې ټپر حتی

لدې نښی څخه د یوې نیستی کافی ده چی ملت نور نو ملت نه وی.

امکان لری داسی خلک وښول شی چی مشترک «ملی اخلاق» ولری خو سره ددې که د اقتصادی لحاظه سره جلاوی په سره بېلو مځکو کی ژوند وکړی په ډول، ډول ژبو خبری وکړی او داسی نو، دوی یو ملت نشو بللای.

لکه د روسیی، ګالیسی، امریکا، کرجستان او د افغانستان یهود، چی زموږ په عقیده یو ملت نه جوړوی. (نور بیا)

یو شعر....

د دوهم مخ پاته

په نامه شهرت لری .

هغه مهال چی (هنر د هنر لپاره) استخدام شو نود شعر پر پیکر لومړنی ګذار داؤ چی هغه په نوی پیرایه او صبغه مقدس رنګ واخیست دا تقدس له هغه تقدس سره پوره تو پیر درلود چی د منځنیو پېړیو په دوران کی د کلیسا په دالانونو کی ورته په نصیب سوی ؤ .

دې نوی تقدس شعر له سادګی څخه درمو زونو یوه داسی عالم ته ارتاو کړ چی بیانو چا پیژندلی هم نشوای او د دغه وخت قهرمانانو به ویل چی شعر باید د انسانی نړۍ په لوت ککړ نشی بلکی هر څونه چی طبیعت په وحشی ، ناپیژندونکی او ددی په اصطلاح په جاودانی عالم کی لا هووی هغو ته ارزښت لری . د دوی په ډاډ وویل چی حتی انسانی ذهن که د شعر په رمز پوه سو دغه باید د شعر د کمزوری دلیل و بلل سی .

دا بحران چی دیو طاعون په ډول د شعر د بدن شو مه و ایستله نو هغه وخت پر راورسېدی چی د نړۍ شرایط د شلمی پېړی په اقتصادی سیاسی بدلون پر له واوښتل او نوویو پدید و له راتګ سره په ادبیاتو کی غلبه د ریالیزم په نصیب شوه .

په ریالیزم کی شعر بیرته خپل بالواسطه حالت چی د اجتماعی جریاناتو په تسلط کی له لاسه ور کړی ؤ بیا وموند او د ساده ګی او بسیط والی اصل پکښی راژوندی شو .

موږ نن د دې اجتناب ناپذیره واقعیت څخه ګر سره ځان نسو پېچلی چی واقعا ښه شعر هغه دی چی ساده ګی ولری او بسیط والی پکښی موجود وی .

د شعر د پاره د ملتن دوهم اصل

پورته موږ د انګلیسی لیکوال جان ملتن د هغو درو اصلو څخه لمړی اصل وڅېړی چی د شعر د پاره ئې په معیاری ډول حدود په تعین کړی وه .

په روانه مقاله کی موږ د ملتن د درو اصلو نو څخه دوهم اصل څېړو چی هغه شعر له ناپیژندونکی عالم څخه و پیژندلی دنیا ته راولی .

ملتن ویلی وه : چی ښه شعر هغه دی چی سر بېره پر ساده ګی او بسیط والی (د نفسانی لذاتو څخه هم خارج نه وی) یو شعر چی د نفسانی لذاتو څخه خارج د کوم عالم څخه ږغیږی هغه ځکه ښه شعر کېدای نشی چی دیوه وحشی ذهن مولود وی او بل هغه ذهن هم وحشی کوی چی دده زېږنده وی هر کله چی کوم ذهن له عینی جهان څخه جدلی تصنیف سم و نه لری نو درک ئې ذایل کیږی او هغه وخت چی د شیانو او رېدو درک فاسد شی نو دا ذهن وحشی بلل کیږی او د عمل په ساحه کی د دغسی پر له پاشلی ذهن احکام نه یوازی فرد او ټولنی د اجتماعی ژوند سیستم ته بی فایدی تمامیږی بلکی د هغه پر مختګ شنډه وی او رکود ته ئې منجر وی که موږ شعر د هنرمند د ذهن هغه مولود وبولو چی د عینی عالم څخه ئې نطفه اخستل سوی وی نو هغه باید د طبیعت تابع وی او د هغه تر کمبله پښی و نه غزوی هر هنرمند چی د طبیعت انعکاس پخپل هنر کی ښکاره کړی او تر هغه ها خواته غرضداره نسی نو دی یو ریالست هنرمند دی او هر شاعر چی دیو هنرمند په حیث د دغو حدودو په پیژندنه موفق وی نو د ده اثر به اغیزه هم لری .

موږ ددې واقعیت له منلو څخه ناګزیره یو چې هنر باید د انسانی ژوند عطیه وبولو او ددې حقیقت له منلو څخه وروسته نو اصل کاردادی چې هغه د ژوند لپاره استخدام شی .

هغه چې هنر د هنر د پاره وقفوی دوی د هنر هره څانګه مغشوشه کړی ده او په خاص ډول د شعر څخه ئې یوه عجبه قواره جوړه کړېده .

په شعر کی چې د نفسانی لذت پیروی نه وی سوی او یوائی د یو وحشی نخیل زېږنده وی او سر بېره پر دې د هنر برای هنر د فلسفی په پیروی جوړ سوی وی نو د دغسی هنرمند د ذهن او عینی جهان ترمنځ دونه تفاوت موجود وی چې قواره ئې یو وخت یوې عربی مجلی داسی ترسیم کړی وه .

شاعر د خپلی ښکلی محبوبا په شان کی شعر وایی د هغی مخ د سپوږمۍ خوله د مشوانی زلفی د مارانو سترګی د ګولۍ (مردك) غاړه د صراحی او دغسی ټوله اندامونه د یوه بل شی سره په تشبهه وصفوی د دغو الفاظو څخه جوړ سوی رسم داسی راغلی دی چې د صراحی پر غاړه د سپوږمۍ مخ دی او د خولی پر ځای ئې مشوانی ده په سترګو کی د توپکو مردك پراته دی او پر اوږو ئې د سر له خوا لوی ، لوی ماران راځړیږی دا نو د شعر هغه منظره ده چې د نفسانی لذت او پېژندلی عالم څخه جلا جوړه سوېده .

دلته په موږ کی هم تر دا نژدو ورځو پوری چې به هر چیری پر ادبیاتو خبری کېدی یا به په خاص ډول د شعر خصوصیات بیانېدل نو د عروضی او غیر عروضی شعرونو په توپیر ئې پر هغو بندېزونه لګول او نو ځکه زموږ شاعر مجبورؤ چې ووایی : که پدې قافیه کی کمبود راغی نو چې د پلار سر په لاس راشی هم به دریغ نه پر کوی .

دا نو که دلته وه که په بل ځای کی د شعر انحطاط دوره ئې باید وبولو ځکه په شعر چې دونه لفظی تعقیدات وارد سی (د پښتی ۳ مخکی)

ادب

د ۱۰ مخ پاته

نن ورځ د هغی معنی نه بغیر چې زموږ په محیط کی د ادب او بی ادب په مورد موجوده ده او ادب ناك هغه چا ته ویل کیږی چې د مشرانو احترام کوی او د هغوی د مخه خبری او د نظر اظهار نه کوی او تل چې مشران څه ورته وایی هغه عملی کوی او د کړو ګام پر ګام تعقیب کوی او یا بی ادب هغه چا ته ویل کیږی چې د مشرانو او لویانو د مخه ګډوی او سترګی ئې نه تخیږی او د هغوی له مخه لکه یو مستقیل موجود ناسته او ولاړه کوی .

ادب یوه نوی دنیا او نوی ځان ته مستقیل شکل غوره کړی دی یعنی هغه یوازی ندی چې یو شاعر ئې د خط ، خال ښکلا او ننداري ، ورځو ، باڼو-ګانو ، شونډانو ، باړخوګانو قد او داسی نور د معشوق په اوصافو کی خیالی او تصنعی تشبیهات جووی او په غیر واقعی ډول حقیقی موجودیتو نه د مجاز او استعاری په شکل یو د بله سره تړی بلکی نن ادب د انسانانو په ژوندانه کی دومری پراخه فضا اشغال کړېده هیڅ تحول او تکامل د هغه شی څخه وتلی نه شی او د غه مفهوم چا په یو ځای کی داسی ادا کړېده .

ادب د ژوندانه د هغه درس او وصف څخه عبارت دی چې د ژوندانه لوړتیا او ارتقا پکښی مقصد وی . «پای»

د «نور وادب»

ستا نغمه

که ته زما سره خبری ونه کړې، نو زه به خپل زړه، ستا په خاموشۍ ډک کړم، او هغه به وزغمم؛ زه به پټه خوله شم او د شپې په څېر به د نجومي ویښوالي په حالت کې په صبر او استقبال په کږه غاړه ستا انتظار باسم.

ورځ هر ومرو راتلونکې ده، تیاره به ورکه شي او ستا آواز به آسمانونه وچوي، د زرینو چینو په شان به وبهیږي.

هغه وخت به ستا خبري زما د چڼچڼو له ځالیو څخه د نغمې په توګه هر لور ته والوزي، او ستا نغمه به زما په بیابانۍ ګوټ کې ګل غوندي وټو کیږي او غوټۍ به ئې ولویږي.

✡ ✡ ✡

د مینې انتظار

زه یوازې مینې ته منتظریم چې د هر څه په پای کې خپل ځان دهغې لاسوته وسپارم، همدا سبب دی چې دومره ناوخته شو او همدا وجه ده چې زه د دومره متروکاتو مجرم یم.

وګړي خپل قواعد او قوانین راوړي چې ما پرې پابند کړي خو زه تل ځینې ډډه کوم دا ځکه چې زه مینې ته منتظریم چې د هر څه په پای کې خپل ځان دهغې لاسوته وسپارم.

وګړي پر ما الزام لګوي، ما بې پروا بولي، زه هیڅ شک نه لرم چې دوی رښتیا وایي.

د بازار ورځ ختمه شوه او دیوه مشغول سړي کار پای ته ورسېد هغه وګړي چې همداسې د فضولي بلنې د پاره راغلي ؤ په خښم بیرته ولاړل.

هو! زه صرف مینې ته منتظریم چې د هر څه په پای کې خپل ځان دهغې لاسوته وسپارم.

«ټاګور»

د ۲۸ مخ پاته برخه

هغه د معنی څخه خالي کیږي او دا له معنی څخه خالي والي ئې د دې باعث ګرزي چې نفساني لذت کډه ځینې باروي.

د پورتنی تحلیل او څېړنی په نتیجه کې نو موږ د ملتن دا دوهم اصل هم د ښه او بد شعر ترمنځ معیار کولای شو چې یو ښه شعر به د نفساني لذاتو څخه خارج نه وي.

«پاته لري»

تصحیح

د مجلې د ۹۳ ګڼې د ۸ مخ د ماخذ په برخه کې دی حدود العاله په حدود العالم. زین الاخبار ګردیز په زین الاخبار ګردیزي او سائکلو پیدیا دی په انسائیکلو پیدیای بریتانیکا تصحیح شي.

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR: ZALMAI 'BARAK'
(JULY) 1968
GOVERNMENT PRESS

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د ۹ کال څلورمه ګڼه

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
دهیواد په داخل کی [۳۲]
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر
پر له پسی ګڼه ۹۴

د کندهار دولتی مطبعه